د کورنیو پیاوړي کول

ارزونې ولې مهمې دي؟

ارزونه د زده‌کوونکو د زده‌کړې په اړه د معلوماتو راټولولو یوه لاره ده. دولتي ازموینې یو ډول ارزونې دي. د دې لپاره چې زموږ ماشومان د دولتي ازموینو په اړه مثبت فکر وکړي، باید د ازموینو په اړه زموږ د لویانو پر احساساتو بیا ځلي فکر وکړو او له دوی سره په مثبت او هڅونکي ډول خبرې وکړو، ترڅو وغواړي هغه څه وښيي چې زده کړي يې دي.

دولتي ازموینې زموږ د ماشومانو لپاره یو مهم فرصت دی ترڅو وښيي چې پر څه شي پوهیږي او څه کولی شي.

دولتي ازموینې ماشومانو ته فرصت ورکوي چې هغه څه له ځانه وښيي چې يې په خپلو ټولګيو کې يې زده او تمرین کوي.

د ازموینې لپاره یوه مثبته تګلاره:

د ازموینې نمرې تر عالي ښوونځي وروسته د مسلک یا زده‌کړې لپاره د شخصي خوبونو پر لور د پرمختګ اندازه کولو لپاره یوه ښه لاره ده.

ازموینه د دې معلوملو یو فرصت دی چې زموږ ښوونځي د زده‌کوونکو اکاډمیکې اړتیاوې څومره ښه پوره کوي.

د ازموینې پایلې د زده‌کوونکو په زده‌کړه کې تشې په ګوته کوي، چې په دې ترتیب داسې ګامونه اخیستل کېدای شي ترڅو ډاډمنه شي چې ټول زده‌کوونکي د معنی لرونکي پرمختګ په برخه کې تر ملاتړ لاندې دي.

پایلې د ایالت له پالیسي جوړونکو او ځایي ښوونیزو بورډونو سره هم مرسته کوي چې هغه ښوونځي وپیژني چې ډېرې مرستې یا اضافي سرچینو ته اړتیا لري.

کله چې موږ له خپلو ماشومانو سره د دولتي ازموینو په اړه په مثبت او هڅونکي ډول خبرې کوو، دوی هغه څه شریکولو ته لیواله کېدای شي چې پرې پوهیږي ځکه دا درک کوي چې د ازموینې پایلې يې د ښوونځي پر مهمو لارو اغېز کوي

د ښوونیزو پایلو د ملي مرکز (NCEO) د همزولو زده‌کړې ګروپ کې ګډونوالو د کورنیو د پیاوړي کولو په اړه چې د دولتي سیستماتیک پرمختګ پلانونو (SSIPs) کې د ارزونو رول درک کړي، په دې لړۍ کې مهمې ونډې واخیستې. هغه د مسلو او پایلو په اړه معلومات ورکړل. د PLG غړو د دې محصول مسودې هم بیاکتنه کړې. فاینل سند هڅه کوي چې ارزښتناک نظرونه او وړاندیزونه یې منعکس کړي

NCEO د متحده ایالاتو د پوهنې وزارت د ځانګړو زده‌کړو پروګرامونو دفتر، له څېړنې تمرین ځانګې سره د همکارۍ تړون (#H326G210002) له لارې تر ملاتړ لاندې دی. دا مرکز د مینیسوټا پوهنتون د زده‌کړې او بشري پراختیا کالج کې د ټولنې د ادغام انستیټیوټ سره تړاو لري. له EDGAR §75.62 سره سم، منځپانګه د متحده ایالاتو د پوهنې وزارت د همکارۍ تړون له مخې رامنځته شوې، خو د متحده ایالاتو د پوهنې وزارت یا پکې دننه دفترونو پالیسیو یا نظرونو استازیتوب نه کوي. لوستونکي باید د فدرالي حکومت لخوا تایید ونه ګڼي. د NCEO د پروژې افسر: David Egnor www.nceo.info

د کنساس ایالت د پوهنې وزارت د نژاد، رنګ، مذهب پر اساس تبعیض نه کوي، او نه هم د کنساس ایالت د پوهنې وزارت په خپلو پروګرامونو او فعالیتونو کې د نژاد، رنګ، مذهب، ملي اصل، جنس، معلولیت یا عمر پر اساس تبعیض کوي او بای سکاوټس او د ځوانانو نورو ټاکلو ډلو ته مساوي لاسرسی ورکوي. لاندې کس د تبعیض نه کولو پالیسیو په اړه د پوښتنو لپاره ټاکل شوی دی: KSDE General Counsel, Office of General Counsel, KSDE, Landon State Office Building, 900 S.W. Jackson, Suite 102, Topeka, KS 66612, (785) 296-3201